دَ پښتو په تاریخ کښې په اول ځل دَ قرباني او غټ اختر
په موضوع لیکلې شوی خوندور نظمونه

# غټ اختر او قرباني


لیکوال

مولانا احمدعلی مرداني



ناشر

اسلامی ادبی تولنه

یونیورسټي روډ مردان

0312- 9818511


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

# وصلی اللّٰه تعالیٰ علی النبی الامّی

## راغے اختر راغے..................نظم

راغے اختر راغے، سحر سحر راغے
ښۀ یقیني ملګرو! راغے خبر راغے
خلقو ده میاشت لیدلي
اُوس به اختر کوُو مونږ
قدر دَ لوئي وړوکی
ښۀ برابر کوُو مونږ
آواز په خلي دَميني په هر بشر راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے
ملمه چي دغه راشی
قیصي دَ غم ختمي شي
ملمه چي دا اشنا شی
قیصی دَ غم ختمي شي
زیري دَ هر خوشحالي ښۀ برابر راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



وارۀ اولوئي په جمع
ورته دی ټول خوشحاله
دَ خوشحالو په طمع
ورته دی ټول خوشحاله
سیوري دَ هریو سکون راغے په سر راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے

که تقدیر زمونږ وی
مونږ قربانی به کړو
که په نصیب زمونږ وی
دغه نیکی به کړو
آمر دَ مونږ سره بیا چې دَ وَالنُحَرُ راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے

په مالدارانو واجب
دا قربانی کوُل دی
غواړی دینداره خلق
هریو نیکی کوُل دی
ښکاره پیغام په ټولو ښه معتبر راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشبو لګول په کښې دی
دَ پیغمبر ﷺ سنت
غسل په کښې راغلے
ښهٔ برابر سنت
دَ خوشحالو په هر ځائې یو شورځادر راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے
دَ ربَ مولا عطا ده
شکر الحمد لِلّٰه
عطا اعلا اعلا ده
شکر الحمد لِلّٰه
دَ تکبیراتو موسم په لراو بر راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے
دَ لوئې اختر خوشحالی
شه مبارك دَ ټولو
ددې اختر خوشحالی
شه مبارك دَ ټولو
خوشبو خوشبو په وجود ټول معطَر راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ملګروته زۀ
مبارکي وايمه
مبارکي ورته زۀ
احمدعلي وايمه
دَ پسرلي موسم حسين منظر راغے
راغے اختر راغے، سحر سحر راغے

.............................................

## اختر راځي دَ خوشحالو سره ....... نظم

اختر راځي دَ خوشحالو سره
راځي راځي دَ خوند مزو سره
په کښي په تن کپړے اعلا واچوه
کپړي ښه ښکلي ښه صفا واچوه
مزه اختر کړي ښه، دَ ښو سره
اختر راځي دَ خوشحالو سره
تکبيرات وايه ته عيدګاه ته چي ځے
مونځ لره ته ميدان صفا ته چي ځے
وايه تکبير هم په راتلو سره
اختر راځي دَ خوشحالو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا قربانی ده کڅهٔ مالداره ئي ته
دَ خپل محبوب ﷺ کڅهٔ وفاداره ئي ته
دي لوئي اختر دَ قربانو سره
اختر راځی دَ خوشحالو سره

په کښي خیرات په کښي صدقه اوکړهٔ ته
هر عبادت په خوند مزه اُوکړهٔ ته
اختر کړه تیر رکوع ، سجدو سره
اختر راځی دَ خوشحالو سره

دغه اختر دي وی هم ستا مبارك
وائی احمد ، شه دَ هرچا مبارك
راځی اختر مبارکو سره
اختر راځی دَ خوشحالو سره

.............................................

## رمضان یو ځلي بیا.................نظم

رمضان یو ځلي بیا په لراو بر دے راروان
اختر نه مخکښي وروره ! بیا اختر دے راروان
ماحول دَ عبادت به په کښي هرطرف ته جوړ وی
ماحول دَ تلاوت به په کښي هرطرف ته جوړ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کور باندي دَ نور ښکلي سحر دے راروان
رمضان يو ځلي بيا په لراو بر دے راروان
هر خواته خوشبوئي دَ اطاعت به محسوسيږي
هر خواته خوشبوئي دَ عبادت به محسوسيږي
ماحول دَ پسرلي حسين بهتر دے راروان
رمضان يو ځلي بيا په لراو بر دے راروان
قيديان به په کښي وي په هرطرف ټولشياطين
هر خواته به ماحول وي دَ سکون ښه بهترين
هر چاته محسوسيږي په نظر دے راروان
رمضان يو ځلي بيا په لراو بر دے راروان
هر خواته جماتونه به په خلقو بيا ډکيږي
احمده ! شيطانان به دَ جهان ټول خفه کيږي
ماحول دَ انواراتو معطر دے راروان
رمضان يو ځلي بيا په لراو بر دے راروان

..............................................

## مالدار به قرباني کوي............. نظم

يو ځلي مسلمانه ! بيا اختر دے راروان
مالدار به قرباني کوي په دي کښي په جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



غني چې وي مالداره قرباني به خامخا کړي
د دين دَ هر يو حکم سره دلته کښې وفا کړي
په ښه کارونو ښه ښکاري دُنيا کښې هر انسان
يو ځلي مسلمانه! بيا اختر دے راروان

غني چې وي مالداره دَ رب حق ادا کوي
کارونه دَ نيکۍ په هر طرف هرخوا کوي
کامل لري چې دلته کښې نصاب يو مسلمان
يو ځلي مسلمانه! بيا اختر دے راروان

لازم دي په مالداره چې ئې دلته ضرور اُوکړئ
تو ښه محشر دَ پاره چې ئې دلته ضرور اُوکړئ
باعث دا قرباني ده دَ سکون او اطمينان
يو ځلي مسلمانه! بيا اختر دے راروان

يادونه په کښې دي دابراهيم خليل اللّٰه
يادونه په کښې دي دَ اسماعيل ذبيحُ اللّٰه
را ياد کړهٔ خامخا هغه حسين ښکلي دوران
يو ځلي مسلمانه! بيا اختر دے راروان

زمونږه خوږ نبي ﷺ په پابندي سره ده کړے
په کلکه ، ښه په سچه دَ اسلام اُونيسه پړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو موټې دغه وخت دَ مسلمان وي خاندان
یو ځلي مسلمانه! بیا اختر دے راروان
مالدار دَ هر غریب سره په کښې امداد کوي
احمده! حقیقت کښې صحیح دا ده زندګی
دَ هر یو عبادت خپله مزه وي اُوچت شان
یو ځلي مسلمانه! بیا اختر دے راروان

..................................

## قرباني دا قرباني ................ نظم

بهترینه، زندګی، بهترینه بندګی
قرباني دا قرباني، قرباني دا قرباني
قرباني عمل اعلا
قرباني عمل بالا
قرباني وفا
دَ ژوندون سبق صفا
صحیح دا مسلماني، لوئې طاقت دے روحاني
قرباني دا قرباني، قرباني دا قرباني
غټ اختر کښې به مالدار
کوي کال په کال باربار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــوي هـــــرخــــواهــــرديـــنــــدار
بنــــــه پــــــه شـــوق ســـره پـــــه جـــار
دا خبـــره يـقيـنــی ، دا ســنــت ابــراهيـمـی
قــربــانــی دا قــربــانــی ، قــربــانــی دا قــربــانــی
ذخيـــــــــره بنـــــــــه دَ مـــــــحشـــــــر
خـــوشـــحـــــالـــــی دَ هـــــربشـــــر
خـــوشـــحـــــالـــــی دَ غـــټ اختـــر
يـــــاد ســــــاتــــــــه بنـــــــهٔ بـــرابـــر
نــه ده نــه ده نــقـصــانــی ، نــه ده نــه ده تــاوانــی
قــربــانــی دا قــربــانــی ، قــربــانــی دا قــربــانــی
ثـــوابــــونــــــــه پــــــــه دي ډيـــــر
رحـــــمتـــــونـــــــه پــــــه دي ډيــــر
بــــــرکتــــــونــــــه پـــــــــه دي ډيـــــر
بيـــــــانـــــونـــــــه پــــــه دي ډيـــــر
دَ احــمـد بنــه شــاعــری ، دا سـنـت دَ خـوږ نبـی ﷺ
قــربــانــی دا قــربــانــی ، قــربــانــی دا قــربــانــی

..............................................

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې وی مالداره قرباني دې کوی.....نظم

چـــې وی مــــالــــداره قـــربـــانـــی دې کـــوی
خـــامــخـــا دا غټـــه نیـــکـــی دې کـــوی
چـــې وی مــــالــــداره قـــربـــانـــی دې کـــوی
دَ شـــرعـــی حـــکـــم پـــابـــندی دې کـــوی
د ثـــوابـــونـــو لـــویـــو دا ذریـــعـــه
د ثـــوابـــونـــو لـــویـــو دا وسیـــلـــه
قـــربـــانـــي ســـره خـــوشـــحـــالـــی دې کـــوی
چـــې وی مــــالــــداره قـــربـــانـــی دې کـــوی
پـــلِ صـــراط لـــره ســـورلـــي بـــه اعـــلا
پُـــلِ صـــراط لـــره ســـورلـــي بـــهٔ بـــالا
دَ ربّ پـــه دغـــي بـــنـــدګـــی دې کـــوی
چـــې وی مــــالــــداره قـــربـــانـــی دې کـــوی
غـــم دَ مـــحـــشـــر چـــې ورســـره وی دلـــتـــه
غـــم بـــرابـــر چـــې ورســـره وی دلـــتـــه
اعـــلا ســـنـــت ابـــراهـــیـــمـــی دې کـــوی
چـــې وی مــــالــــداره قـــربـــانـــی دې کـــوی
پـــه مـــدیـــنـــه کښـــې پـــاك حـــضـــور ﷺ کـــوُلـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضور ﷺ به هر کال دا ضرور کوله

دا خوږ سنت دَ پاك نبی ﷺ دي کوی

چي وی مالداره قربانی دي کوی

دَ ربَ رضا سکون په دي کښي پټ دے

مدام هر خوا سکون په دي کښي پټ دے

دَ ربَ پوره ښهٔ پیروُی دي کوی

چي وی مالداره قربانی دي کوی

قران کښي اَمر دَ وَالنْحَرُ راغلے

ښکاره سورت کښي په کوثر راغلے

ورسره مینه ابدی دي کوی

چي وی مالداره قربانی دي کوی

حضور ﷺ تاکید دَ قربانی کړے ډیر

احمده ! هیڅ کله چي نه دي شی هیر

عبرت تري واخله ګاونډی دي کوی

چي وی مالداره قربانی دي کوی

..................................

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ قرباني دَ پاره عيد الاضحیٰ ........نظم

دَ قــربـــانـــي دَ پـــاره عيـــد الاضـــحـــیٰ راغـــے
دي خـوشـحـالـي راووړي پـه ژوند کښې بيا راغـے
مـســلـــمــــانــــان خــوشــحـــالـــــه
واړه ، ځـــوانـــــان خـــوشـــحــــالـــــــه
تـــول مشـــــران خــــوشـــحـــــالــــــه
نـــن هـــــرانســـــان خـــوشـــحـــــالــــــه
ډيــر لـــــه يــادونـو نـــه ډك ، دا پــه دُنيـــا راغـــے
دَ قــربـــانـــي دَ پـــاره عيـــد الاضـــحـــیٰ راغـــے
دَ ابــــــــــراهيــــــــــم عــــــــــظيــــــــــمؑ
دی دَ نبــــــــــی يــــــــــــــادونـــــــــــــه
دَ اســـــــمــــــــاعيـــــــل کـــــــريـــــــمؑ
تـــــــــازه کـــــوی يـــــــــــادونــــــــــه
تـول‍ــه دُنيـا خبـر شـوه، ښـه پــه رېښتيـا راغـے
دَ قــربـــانـــي دَ پـــاره عيـــد الاضـــحـــیٰ راغـــے
دَ مــــحـــــــلـــــــي کَســــــــانـــــو
ځــــــان لـــــــــه ځـــــــاروی اخستـــــــی
زمــــونــــــــږ نــــــزدي خپـــلـــوانـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څـــــــان لــــــــه څـــــــاروي اخستــــــي
چـې انتـظـار مـونـږ کـوو، هغـه اشنـا راغـې
دَ قــربـــانــي دَ پـــاره عيــد الاضــحـىٰ راغــې
پـــــــــه کښـــــي امـــــداد پـــکـــــار دے
غـــــريـــــب مســــکيـــــن ســـــره تـــــل
قـــــــربــــــــانيتــــــل ده پــــکــــــــار
ښـــــــــــه بهتــــــــريـــــن ســــــره تــــل
سبـــب احــمــده ! مــدام تــل دَ تــقــوىٰ راغــې
دَ قــربـــانــي دَ پـــاره عيــد الاضــحـىٰ راغــې

.........................................

## نه غواړي شيطان چي اُوکړے قرباني...نظم

بيــا دَ غــټ اختــر خــوشـحــالي راغـلــه پـه جهـان
نــه غــواړي شيـطـــان ، چـي اُوکــړے قـربـــانـي
خـامـخـا پـکـار درلــه ده تــهٔ کـهٔ ئـي مـالـدار
خـامـخـا پـکـار درلــه ده تــه کـهٔ ئـي ديـنـدار
نـه غـواړي شيـطـان ، چـي تـهٔ عـظيم شـے عـاليشان
بيــا دَ غــټ اختــر خــوشـحــالي راغـلــه پـه جهـان
رټ درلــه درکــړے ، درټ مــال نــه قـربـانـي اُوکـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي سره دُنيا کښې ورځ محشر لره تياري اُوکړۀ
ښه لوئي ضرورت دے دَ عوام اودَ سلطان
بيا دَ غتې اختر خوشحالي راغله په جهان

مه جوړوه ورروه ! بهانې دَ پرېښودو ورله
جوړه ورروه ! ورروه ! طريقه کړۀ دَ کوو ورله
اُوکړه په يوځائې يا خپل شريك کړۀ خاندان
بيا دَ غتې اختر خوشحالي راغله په جهان

پاتې درنه نه شي وسوسو سره دا دلته کښې
پاتې درنه نه شي بهانو سره دا دلته کښې
ډير به درته وائي هسې مه کوۀ تاوان
بيا دَ غتې اختر خوشحالي راغله په جهان

دا احمده ! کړے محمد رسول اللّٰه ﷺ ده
ښکلې طريقه دَ ابراهيم خليل اللّٰه ده
ياد دا اسماعيلؑ ورسره دے په هر مکان
بيا دَ غتې اختر خوشحالي راغله په جهان

.............................................

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هرخوا قرباني کيږي .............. نظم

راغــے غــبې اختــر راغــے هــرخوا قــربانـي کيــږي
يـوبـل ســره دلتــه کښـي هــرخواتـه سيـالـي کيـږي
دي ســـره احســـاس زړۀ کښي ښـــه پـوره بيـدار ه شـي
ورتـــــه ښــــه رښـــا دلتـــــه د ديـــن هـريـــو لاره شـــي
اُوګـــوره کـــورنـــو کښـــي دا ښـــکـــاره نيـــکـــي کيـــږي
راغــے غــبې اختــر راغــے هــرخوا قــربانـي کيــږي
دا حسيـــن عـــمـــل عـــظـيـم ډيـر ښـــه بهتـريـنـــه دے
څـــاوري کـــړه حـــلال هغـــه ښـــه ډيـر حَسينـــه دے
يـــو واري پـــه کـــال کښـــي بيـــا دا پـــه زنـدګـي کيــږي
راغــے غــبې اختــر راغــے هــرخوا قــربانـي کيــږي
دا دَ ابـــراهيـــمؑ ښـــکـــلـي ښـــه عـــظـيـم سـنت دلتـــه
دَ نبـــي کـــريـــم ﷺ ښـــکـــلـي ښـــه عـــظـيـم سنت دلتـــه
دَ زړونـــو عـــلاج پـــه دي مـــدام صـــفـــائـي کيــــږي
راغــے غــبې اختــر راغــے هــرخوا قــربانـي کيــږي
ډيـــر بـــه بدنـصـيبـــه وي نـــه کـړي قـربـانـي چـي څـوك
يـــا هغـــه غـــريبـــه وي نـــه کـړي قـربـانـي چـي څـوك
کـــار چـــي مـــولا غـــواړي ، کـــار دَ بـنـدګـي کيــــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغـــے غـښ اختـــر راغـــے هـــرخـوا قـربـانـي کـيـږي
ښــه خبـر احـمـده ! کـړۀ هـريـو خپـل لـه دي نـه تـه
ښــه خبـر اُوسيـــږه تــۀ ، پـوره تـل لـه دي نـه تـه
تبـليـغ پــه تــقـريـر سره ، هم پـه شـاعـري کـيـږي
راغـــے غـښ اختـــر راغـــے هـــرخـوا قـربـانـي کـيـږي

........................................

# چي ئي مالداره قرباني مه پريږده..... نظم

چـــي ئـــي مـــالـــداره قـــربـــانـــی مـــه پـــريـــږده
مــدام کـــوه ، دغـــــه نيـــکـــی مـــــه پـــريـــږده
دا ذريـــعــــــه دَ خـــوشـــحــــالـــو زمـــونـــږه
دا وسيـــلـــــه دَ خـــوشـــحــــالـــو زمـــونـــږه
حسيــنـــــه ښـــکـــلـي بــنـدګـــی مـــه پـريـــږده
چـــي ئـــي مـــالـــداره قـــربـــانـــی مـــه پـــريـــږده
اَمــــر حــکــم ئــي پــــه قــــران کښـــي دلتــــه
نيشتـــــه هيــڅ شك پــه دي بيـــان کښـي دلتــه
طـــريــقـــــه دغـــــه نـــورانـــی مـــۀ پـــريـــږده
چـــي ئـــي مـــالـــداره قـــربـــانـــی مـــه پـــريـــږده
پـــه مـديـنـــه کښـي پـاك حـضـور ﷺ کـوُلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښــه يــاد ســاتــه هـغـوی ضــرور کــوُلــه
دا طــريــقــه دَ خــوږ نبــی ﷺ مــهٔ پــريــږده
چــي ئــي مــالــداره قــربــانــی مــه پــريــږده
ورســـره يــــاد اعــــلا اعــــلا تــــړلــــے
ورســـره يــــاد دَ انبيــــاء تـــړلـــے
طــريــقــه دا ابــراهيــمــی مــهٔ پــريــږده
چــي ئــي مــالــداره قــربــانــی مــه پــريــږده
ستــا دے پــه مــال کښــي دَ مــولا دغــه حــق
احــمــده ! يــاد ســاتــه هــرخــوا دغــه حــق
مــيــنــه ورســره قــدرتــی مــه پــريــږده
چــي ئــي مــالــداره قــربــانــی مــه پــريــږده

.................................

## مالدار چي وی او قرباني نه کوی..... نظم

مــالــدار چــي وی او قــربــانــی نــهٔ کــوی
نبــی ﷺ ســره وفــاداری نــهٔ کــوی
نــه ځــی عيــدګــاه تــه دي دَ مــونځ دَ پــاره
ځــکــه بــدلــه دهٔ کــړه خپــلــه لاره
هــغــه دي مــونــږ ســره دوستــی نــهٔ کــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــالــدار چـــې وي او قـــربـــانـــي نـــۀ کـوي
پــــه دۀ عـــمـــل ســـره خـــفـــه نبـــي ﷺ شـــي
بــدي چـــې دلتـــــه ددۀ قـــربـــانـــي شـــي
دَ خـــوشـــحـــالـــي دي تيـــاري نـــۀ کـوي
مـــالــدار چـــې وي او قـــربـــانـــي نـــۀ کـوي
نـــه چـــې ددیـــن نـــۀ دَ اســـلام پـــروا کـــړي
مستـــحـــق ځـــان چـــې دَ عـــذاب ســـزا کـــړي
شيـــطـــان ورســـره دښـــمـــنـــي نـــه کـوي
مـــالــدار چـــې وي او قـــربـــانـــي نـــۀ کـوي
دا عبـــادت مـــدام پـــــه شـــوق پـــکـــار دے
خـــو دامـــکـــــره ! ددې حـــقـــې لاړ دے
بـــدنـــصـــيـــب دے چـــې دا نيـــکـــي نـــه کـوي
مـــالــدار چـــې وي او قـــربـــانـــي نـــۀ کـوي
قـــربـــانـــي اَمـــر دَ الـــلّـــه رسـول ﷺ دے
مـخـــالــفــت ئـــې دلتـــه کـنبـــې فـضـول دے
کـــارونـــه ځـــوك چـــې اســـلامـــي نـــۀ کـوي
نبـــي ﷺ ســـــره وفـــــاداري نـــــۀ کـــوي

.....................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اُوکړۀ قرباني ...................... نظم

مال کۀ درسره وی مسلمانه ! په جهان کښې
اُوکړۀ قرباني اے مسلمانه ! خپل مکان کښې
دا په واجباتو کښې يو اَمر دَ سبحان دے
دا په واجباتو کښې يو اَمر دَ رحمٰن دے
حکم دَ قران دے ، شك چې اُونکړے قران کښې
اُوکړۀ قرباني اے مسلمانه ! خپل مکان کښې
دغه واجبيږی چې مالداره وی غريب نه وی
ظلم به ځان کوی چې حق ته څوك قريب نه وی
دغه به زيات والے راولی په اطمينان کښې
اُوکړۀ قرباني اے مسلمانه ! خپل مکان کښې
څوك چې دَ نصاب په مقدار دلته کښې دولت لری
سر به دَ محشر په ورځ کوُنکې هر اُوچت لری
پاتې چې له چا نه شی هغه وی په نقصان کښې
اُوکړۀ قرباني اے مسلمانه ! خپل مکان کښې
دغه په توفيق سره احمده ! تل مدام کيږی
دا چې قرباني په هرطرف په هر مقام کيږی
ټوله ګټه ده دَ حشر په ميدان کښې

اُوکړۀ قرباني اے مسلمانه! خپل مکان کښې

......................................

## قرباني، قرباني..................... نظم

دَ ایثار ښه نشاني
قرباني، قرباني
طریقه ابراهیميؑ
قرباني، قرباني
دَ نیکو لویه تحفه
دَ نیکو عظیم حصه
نوراني ده نوراني
قرباني، قرباني
واجب دا په ډیر دولت
ایماني غواړي قوت
ده صحیح مسلماني
قرباني، قرباني
ګټه ګټه دا مدام
ګټه ګټه دا تمام
تاواني نه نقصاني

قرباني ، قرباني
پاك حضور ﷺ کړے مدام
ښهٔ عمل دَ خاص او عام
طريقه ښه اسلامي
قرباني ، قرباني
دا سبق ښه دَ عبرت
ښه سبق دَ نصيحت
عمل حُکم اسماني
قرباني ، قرباني
ياده دغه په وَالنْحَر
اے احمده ! برابر
امر حکم قراني
قرباني ، قرباني

.....................................

## قرباني عمل اعلا .................. نظم

قرباني عمل اعلا
درنه پاتي نه شى دا
قرباني عمل اعلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټه په هرخوا
په مالداره امتحان
دَ مولا غني سبحان
په مالداره امتحان
هرطرف ته په جهان
دَ محشر حُسن ښکلا
قرباني عمل اعلا
کوه دلته کښي بیا بیا
قرباني عمل اعلا
چي مالك وي دَ نصاب
طلبکاروي دَ ثواب
چي مالك وي دَ نصاب
مني حق دَ رب کتاب
کوي هغه خامخا
قرباني عمل اعلا
حق ورسره ته ل جُدا
قرباني عمل اعلا
نه کوي چي وي بخیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مـــــــالــــــدار بـــــــــه وي ذليـــــل
نـــــــــه کـــــوي چـــــې وي بـــــخيـــل
کـــــــــوي دا عـــــــمـــــــــل اصيـــــــل
مــــــنـــــــــی حــــــکـــــم د مـــــولا
قـــــــربـــــــانـــــــی عـــــمـــــل اعـــــلا
عـــــــلامــــــــت تـــــــل دَ وفـــــــــــــا
قـــــــربـــــــانـــــــی عـــــمـــــل اعـــــلا
طـــــــريـــــــقـــــــه دَ ابـــــــــراهيـــــمؑ
ډيـــــــــراوُچـــــــت عـــــــمـــــــل عـــــظيـــــم
طـــــــريـــــــقـــــــه دَ ابـــــــرهيـــــمؑ
ســــــنـــــــت دَ نبـــــــی کـــــــريـــــــم ﷺ
لاره دا رنړــــــــــــــــــــا
قـــــــربـــــــانـــــــی عـــــمـــــل اعـــــلا
عـــــــمـــــــل نـــــــه پـــــــريږدي دانـــــــا
قـــــــربـــــــانـــــــی عـــــمـــــل اعـــــلا
اوليـــــــــــــاء کـــــــــــړے مـــــــدام
ښـــــورکـــــړه دغـــــــه حـــــق پيـــــغـــــام
عـــــلـــــمـــــــــاء کـــــــــړے مـــــدام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښور کړه دغه حق پیغام
دَ احمد حقه وینا
قرباني عمل اعلا
خوښه تل زما او ستا
قرباني عمل اعلا

.....................................

## راغے اختر بیا قرباني به کوُم ..... نظم

راغے اختر بیا قرباني به کوُم
ان شاالله زۀ دغه نیکي به کوُم
اخلم میلي ته څم ځاروی دَ پاره
نه چي کمزوري وي ، نه وي بیماره
سنت اعلا ابراهیمیؑ به کوُم
راغے اختر بیا قرباني به کوُم
میلي ته پلار سره یو ځائي به څمه
ځان له دَ قدر به ځاروي اخلمه
خامخا دغه لازمي به کوُم
راغے اختر بیا قرباني به کوُم
څاوري چي اخلو ، ښه اعلا به اخلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څه مو وَس نه ، ښه به الا به اخلو
تپوس په کښې د ګاوندې به کوُم
مشوره ښه وي دا څاروي چې اخلو
ګډه ، بیزه یا غوا ، او غوئي چې اخلو
په دې کښې بل سره سیالي به کوُم
راغے اختر بیا قرباني به کوُم
کال کښې یو ځل احمده ! دا دلته وي
څاروي چې دغه بیا اعلا دلته وي
په دې محشر له تیاري به کوُم
راغے اختر بیا قرباني به کوُم

.........................................

## قُرباني ته شه تیار ................... نظم

کڅه ته ورورہ ! ئې مالدار
قُرباني ته شه تیار
سنت دا ابراهیمؑ
عمل دا دَ خوږ نبي ﷺ
نه پرېږدي چې وي هوښیار
قُرباني ته شه تیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا عمل د اولياء
دا عمل د علماء
ښه عمل دے تل پکار
قرباني ته شه تيار
کټه دا د هر انسان
کټه دا د مسلمان
نوم دے دويم بل د ايثار
قرباني ته شه تيار
په غريب نه ده واجب
کوی دغه هر طالب
کال کښې دا عمل يو وار
قرباني ته شه تيار
ښه اعلا دغه نيکی
ورسره کړه رب راضی
ژوند ورسره ښه د کار
قرباني ته شه تيار
حق حصه زمونږ ددين
دين ورسره تړول حسين

(c) ketabton.com: The Digital Library



عــــــــلامــــــــــــــت دَ وفـــــــــــــادار
قُــــــربــــــانــــــي تــــــه شـــــــه تيــــــار
دا دعــــــــــوت دے دَ احــــــــــمــــــــد
نـــــــصيــــــحــــــت دے دَ احــــمــــد
حُســـــــــن دا دَ کــــــــلـــــــي ښـــــــــار
قُــــــربــــــانــــــي تــــــه شـــــــه تيــــــار

.....................................

## قرباني وی ورسره .................. نظم

قــربــانــي وی ورســره کــلــه غـټ اختــر چي راځــي
خوشحــالــي وی ورســره هــرکلـه سحــر چي راځــي
دا غـټ اختــر وی قــرباني پــه کښي هرخواتـه کيږی
ښـکـلـي مـنظـر وی قـرباني په کښي هرخواته کيږی
تـل مـحسـوسيږی لـکـه کلي تـه دلبـر چي راځــي
قــربــانــي وی ورســره کــلــه غـټ اختــر چي راځــي
دا غــټ اختــروی تـول پـه وينـو ميـدانونـه سـرۀ وی
دَ قـربــانــي ويــنــو سره زمــونــږ کــورونـه سـرۀ وی
حسيـن مـاحـول وی پسـرلـي وی په هر در چي راځي
قــربــانــي وی ورســره کــلــه غـټ اختــر چي راځــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا غټ اَختر وی دعوتونه ، میلمانهٔ وی ښهٔ ډیر
غوښي ښه عام وی خوراکونه، میلمانهٔ وی ښهٔ ډیر
لارو کوڅو کښي دغه رش نن په نظر چي راځی
قربانی وی ورسره کله غټ اختر چي راځی

دا غټ اختر وی چي انسان خپلو خپلوانو له ځی
دَ غټ اَختر مبارکي لره دوستانو له ځی
نوي کپړي ئي وی په تن ښهمعطّر چي راځی
قربانی وی ورسره کله غټ اختر چي راځی

ستا دي نصیب شی اے احمده ! قرباني سره دا
ستا دي نصیب شی هرطرف ته خوشحالي سره دا
دَ خوشحالو زیري راوړی دا برابر چي راځی
قربانی وی ورسره کله غټ اختر چي راځی

.......................................

## بیا غټ اختر راغلے ................ نظم

بیا غټ اختر راغلے ښه ځاروي راوله
داجی ! په کښي ښهٔ غوره دَ فائدي راوله
میلي ته دَ ځاروي دَ پاره تلی ګاونډیان دی
ورغلي ورته خلق ټول زمونږ دَ خاندان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کــــورډَ پــــــاره اے داجــــی دوه دري راولــــــه
بیــــا غــــټ اختــــراغــلـــے ښــــه ښـــاروي راولـــه
داجـــی هغــي میلــه کښـي ښـکلي ګډاول اُوګوره
مـــددأوکـــړهٔ داجـــی ســـره اے خـــوږه زمــا وروره!
کـــهٔ دغــــه نـــهٔ وی بیـــا چیـــلـی چیلـي راولـــه
بیــــا غــــټ اختــــراغــلـــے ښــــه ښـــاروي راولـــه
داجـــی هغــي میلــه کښـي بـه ښاروي ډیرڈَ جهان وی
ولاړبـه اخسـتـو لـه هلتـه کښـي ډیرزیات کسان وی
پـــه ښـــه قیـــمـــت ســـره کـــور لــــه یـو سخـي راولـــه
بیــــا غــــټ اختــــراغــلـــے ښــــه ښـــاروي راولـــه
غـواګـانـي پـه میلـه کښي بـه ولاړي پـه هرخوا وی
دَ یــو بــل نــه خـائستـــه تـولـښـاوربــه ددُنیـا وی
کــوشـــش أوکــړه! تــکــړه پــه کښــي غـوټـي راولـــه
بیــــا غــــټ اختــــراغــلـــے ښــــه ښـــاروي راولـــه
ولاړي بــه وی میـخـي ،سـنـډاګـان هـم پـه میلـه کښي
راجـمـع ښـناوربه رنګ په رنګ وی دي حصه کښي
تـــکـــړهٔ ښـــه ښــنـــاور مـــالــــه پـــه کښــي راولـــه
بیــــا غــــټ اختــــراغــلـــے ښــــه ښـــاروي راولـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدي شي دَ میلي سره په خوا کښي وی اُوښان
یا اُوښي ورسره وی ، اے احمده ! دَ جهان
څاوري ښکلي خائسته ښـۀ دَ میلي راولـه
یا غټ اختر راغلے ښه څاروي راولـه

........................................

## اختر دَ خوشحالو ...................نظم

یو ورځ ده په اسلام کښي مقرر دَ خوشحالو
دَ ټولو مبارك شه دا اختر دَ خوشحالو
اختر کښي سَم ماحول وی دَ ښادي په هر قدم
ښادي سره رخصت شي له دُنیا نه هر یو غم
حسین ښکلي دُنیا کښي دے منظر دَ خوشحالو
دَ ټولو مبارك شه دا اختر دَ خوشحالو
وایم مبارکی په جمع خپلو او پردو ته
وایم مبارکی هم مشرانو او وړو ته
په هرچا باندي ښـۀ لګی خبر دَ خوشحالو
دَ ټولو مبارك شه دا اختر دَ خوشحالو
قدر دَ اختر دا دے ځان کړۀ بچ له معصیت نه
پیغام دَ میني ښور کړۀ ، ځان کړۀ بچ پوره نفرت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیشتــــه دے غـــوره ورځ بـلـــه بهتــر دَ خـوشـحــالـو
دَ تـهــولـــو مبـــارك شــــه دا اختــر دَ خــوشــحـــالـو
سـنـت دَ پاك نبـی ﷺ پـه کښي اختيار پوره پوره کړۀ
سيـرت دَ پاك نبـی ﷺ په کښي اختيار پوره پوره کړۀ
پـــه دي ســـره اختـــروی مــعـطَــر دَ خـوشـحـــالـو
دَ تـهــولـــو مبـــارك شــــه دا اختــر دَ خــوشــحـــالـو
حسيـــن ښـــکــلـي بيـــان لــری هــرخـواتــه مزيـدار
احـــمـــدعـــلـــی نـــامـــه لـــری خـوږه دَ زړۀ قـــرار
دا حُســـن او ښـــکـــلا دے تهـول اثـــر دَ خـوشـحـــالـو
دَ تـهــولـــو مبـــارك شــــه دا اختــر دَ خــوشــحـــالـو

........................................

## لوئي اختر مو مبارك شه ........... نظم

پـــه جــمـع اے مــلـکــرو! لـوئي اختـر مومبـارك شـــه
ددغـي ورځـي هـــرســـاعـت سـحـر مــومبــارك شـــه
اختـــر هـــرخــوا راوړی خـوشـحـــالي پــه هـرمـقـام
هـــرخـــواتـــه سـمـي جـوړي دی ښادي پـــه هـر مـقـام
دَ مـيـنـــي مـحـبـت ښـکـلـي مـنـظـر مـومبارك شـــه
پـــه جــمـع اے مــلـکــرو! لـوئي اختـر مومبـارك شـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کور کښې دعوتونه دي هرخواته دَ خپلوانو
جوړې نوې اغوستې مشرانو، کشرانو
دا حُسن او ښکلا دَ لراوبر مو مبارك شه
په جمع اے ملګرو! لوئې اختر مو مبارك شه

کورونه چونه شوي دي رنګین دي سراسر
دعوت دخوشحالې درکوي تاته هريو در
ژوندون دَ خوشحالو ښه مقدر مو مبارك شه
په جمع اے ملګرو! لوئې اختر مو مبارك شه

په جمع په کښې کيږي دَ اختر مونځونه ورورہ!
عيدګاه کښې هرطرف ته ګوره نظر مونځونه ورورہ!
مونځونه عبادت دَ هرسحر مو مبارك شه
په جمع اے ملګرو! لوئې اختر مو مبارك شه

اختر دَ قربانو دے، قرباني به په کښې کيږي
اعلا دَ خپل مالك ښهٔ بندګي به په کښې کيږي
منظر دَ عباداتو معطر مو مبارك شه
په جمع اے ملګرو! لوئې اختر مو مبارك شه

دَ حج ادا کولو ورورہ! دغه خوشحالي ده
دا ورځ اے مؤمنانو له غمونو نه خالي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ربَ هريو نعمت ښهٔ برابر مو مبارك شه
په جمع اے ملګرو! لوئي اختر مو مبارك شه
شعرونه دَا حمدعلي ورته دغه ډالي دی
نصيب چي دَا اختر وروره! دَ چا دا خوشحالي دی
په جمع دَ سکون زيري خبر مو مبارك شه
په جمع اے ملګرو! لوئي اختر مو مبارك شه

.........................................

## اختر اختر دي وی .................. نظم

اختر اختر دي تل وی ستا مبارك
اختر دي وی دا دَ هرچا مبارك
مبارکی درته په مينه مينه
مبارکی درته په دين مشينه
اختر دي وی دَ ټولو دا مبارك
اختر اختر دي تل وی ستا مبارك
سلام سلام درته په مينه مينه
دُعا پيغام درته په مينه مينه
مدام دَ ژوند هريو ښُکلا مبارك
اختر اختر دي تل وی ستا مبارك

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاقاتونه دَ خپلوانو سره
دَ مشرانو ، کشرانو سره
دَ حشر هر یو سودا مبارک
اختر اختر دي تل وی ستا مبارک

که ته مالدار ئي قرباني کوے ته
په نیغه لار ئي قرباني کوے ته
دا ښه عمل دے د دُنیا مبارک
اختر اختر دي تل وی ستا مبارک

وړوکي لوئي دوه اخترونه لرو
په کښي احمده ! ډیر یادونه لرو
ددین په دي سره بقا مبارک
اختر اختر دي تل وی ستا مبارک

.....................................

## لوئي اختر دے اے ملګرو ! راروان

لوئي اختر دے اے ملګرو ! راروان
قرباني به په کښي وی په هر مکان
طریقه دَ ابراهیم علیه السلام ده
طریقه دَ مُسلانو دَ امام ﷺ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا واجـــب ده پـــه مـــالـــداره مســـلـمـــان
لـــوئـــي اختـــردے اے مـــلـــگـــرو! راروان

پـــه مـــالـــداره لازم کـــړے شـــريـعـــت ده
لازم کـــړے پـــاك الـــلّـــه ربُّ الـعـــزت ده

دَ وَالـنْـحَـرْدے ښـۀ ښـکـاره واضـح اعـلان
لـــوئـــي اختـــردے اے مـــلـــگـــرو! راروان

دَ نـصـاب بـرابـر مـال لـري چـي څـوك
پـه حسـاب بـرابـر مـالك لـري چـي څـوك

قـربـانـي بـه کـوي بيـا هـغـه انسـان
لـــوئـــي اختـــردے اے مـــلـــگـــرو! راروان

يـو نـصـاب ئـي دَ ووه نيـمـو تـولـو سـرودے
حـکـم هـريـو دَ مـولا دَ خـکـليـدو دے

ښـه پـو هيـږی پـه دي دا تـول عـالـمـان
لـــوئـــي اختـــردے اے مـــلـــگـــرو! راروان

بـل دوه نيـم پـنـځـوس دَ سپيـن زرو نـصـاب دے
يـا قيـمـت دَ سپيـنـو زرو پـه حسـاب دے

دغـه حـکـم دے دَ نـمـر پـه شـان عيـان
لـــوئـــي اختـــردے اے مـــلـــگـــرو! راروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـــا ســـــامـــــان دَ تـــجــــارت لـــري بشـــر
قيـــمـــت رَســـي ئـــي نـــصــاب تـــه دَ سپيـــن زر
واجبيـــــړي قـــربـــــانـــي پـــــه دي ســـــامـــان
لـــوئـــي اختـــردے اے مـــلـــګـــرو! راروان

ګـــنــــا هـــونـــــه ورســـــره دلتـــــه رژيـــړي
پـــــه دي لـــوئـــي مـــرتبـــي هـــم مـــلاويـــړي
پـــــه دي ګـــلـك دلتـــــه يـقيـــن ســـاتم ايـمـــان
لـــوئـــي اختـــردے اے مـــلـــګـــرو! راروان

زنـــانـــه يـــا نـــاريـنـــه چـــي وي مـــالـــداره
ګـــوی هـــريـــو قـــربـــانـــي چـــي وي هـــوښيـــاره
دَ احـــمـــدعـــلـــي دے حـــق پـــوره بيــــان
لـــوئـــي اختـــردے اے مـــلـــګـــرو! راروان

..............................

# قرباني پکار ده

پـــه بنـــه کـــارونـــو کښـــي سيـــالـــي پـــکـــار ده
لـــوئـــي اختـــر راغـــے قـــربـــانـــي پـــکـــار ده
قـــربـــانـــي ده دَ خـــوږ نبـــي ﷺ طـــريـــقـــه
قـــربـــانـــي ده دَ هـــرولـــي طـــريـــقـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو ولي سره دوستي پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده

آغاز شوروئي له هابیل نه وروره !
آغاز شوروئي له هابیل نه ګوره!

ورله په شوق ښهٔ تیاری پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده

دَ ابراهیم علیه السلام طریقه
دَ هر یو نیك عالم امام طریقه

دَ خپل امام تابعداری پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده

پټ دی په دي کښي رحمتونه ښهٔ ډیر
ثواب بدله په دي اجرونه ښهٔ ډیر

څه لږ محنت لږه خواری پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده

احمده ! ښه عمل دے ، دا به کوُو
کهٔ وی تقدیر کښي ، خامخا به کوُو

په ښکلي شان ښه بندګی پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرباني

منئين دے په الله او په نبي ﷺ
دُنيا كښې چې كوي څوك قرباني

شته په دې سره اجرونه
شته ورسره بركتونه
شته بدله ئې رحمتونه
شته بدله ئې جنتونه

دا چې دلته كښې هم څوك كوي
منئين دے په الله او په نبي ﷺ

مه پرېږده ئې وروره! دلته
اے دَ سترګو توره! دلته
اے دَ زړه ټكوره! دلته
بيچ كړه ځان له اُوره دلته

ښه ده په دُنيا اعلا نيكي
منئين دے په الله او په نبي ﷺ

حكم دَ مولا دے دغه
حكم ښه صفا دے دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم شتهٔ اعلا دے دغه
حق بیان رښتیا دے دغه
(وَالنْحَرْ) دے ایت قراني
منئين دے په الله او په نبي ﷺ

تهٔ که د نصاب مالك ئي
تا باندي واجب دغه ده
زهٔ که د نصاب مالك يم
ما باندي واجب دغه ده
دا خبره شته په پوره قوي
منئين دے په الله او په نبي ﷺ

دا د مُرسلانو عمل
دا د امامانو عمل
دا دے د نیکانو عمل
دا د عالمانو عمل
دي سره تړلي بندګي
منئين دے په الله او په نبي ﷺ

کيږي په توفيق د رب
د نور او ښکلا سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــــــور رنهـــــــــــا دَ ورځ او شـــــــــــب
ښــــــه ښـــکـــــاره ، صــــفـــــا مــطـــلـــب
دَ احـــــمــــــد ويــــــنــــــا ښــــــه قـيــــمـتــــی
مـــنـئـيــــن دے پـــــه الــــلّـــــه او پـــــه نبــــی ﷺ

................................

## قرباني په چا واجب ده؟

شــوه ميــاشــت دَ ذوالــحـجـی ، ده راروانــه قـربــانـی
مــالــدار بــانـدي واجـب ده مـسـلـمـانــه ! قـربــانـی
آغــاز او ابـتــدا ئـي لــه هــابيـل نـــه پـــه جهــان ده
خبـــره ښـــه واضـحـــه لـكـــه نـمــر رنهـا عيــان ده
ده ديـن او شــريـعــت كـښـي لــه پخـوانـه قـربـانـی
مــالــدار بــانـدي واجـب ده مـسـلـمـانــه ! قـربــانـی
دا لاره طـــريـــقـــه دَ ابـــراهيــم عـلـيـــه الـســلام ده
دا لاره طـــريـــقـــه دَ مُـــرســـلانـو دَ امـــام ﷺ ده
كـوه دَ الـلّــه لار كـښـي څـكــه څـوانـه ! قـربــانـی
مــالــدار بــانـدي واجـب ده مـسـلـمـانــه ! قـربــانـی
دلـيــل پـــه دي خبـــره مـــي آيـــت دے دَ قـــران
كـوثـر سـورت كـښـي ښــهٔ ښـكاره راغلـے دے اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وَانْحَرْ) سره ثابت له قرآنه قرباني

مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

لری چي څوك ووه نيمي تولي سرۀ په دي جهان

کوی به په دُنيا کښي قرباني هغه انسان

مالدار لره ووروره ! ښه اسانه قرباني

مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

مالك چي دَ دوه نيم پنځوسو سپينو دَ تولو وی

يا دومره دي مالك دَ اضافي رقم پيسو وی

لازم په دي صورت کښي وی انسانه ! قرباني

مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

کوی مدام هغه ، ورته توفيق چي ملاويږی

احمده ! چي په دين په احکاماتو څوك پوهيږی

انسان له بچ کوی له هر نقصانه قرباني

مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

.........................................

## قرباني نه کوی

مالدار چي وی او قرباني نه کوی

هغه دَ دين تابعداری نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر بدنصیب دے بد نصیب دے هغه
هریو شیطان ته نیه قریب دے هغه
څوک چې ددین سره یاري نه کوي
مالدار چې وي او قرباني نه کوي

رب تري خفه په هر مقام دلته وي
رب تري خفه سحر ماښام دلته وي
څکه چې حق سره دوستي نه کوي
مالدار چې وي او قرباني نه کوي

حکم د رب دے د (وَالنْحَرُ) سره تل
څان کړه د رب حکم سره دلته مَل
په دین عمل صرف باغي نه کوي
مالدار چې وي او قرباني نه کوي

مونځ له دي نه څي د عیدګاه په طرف
رنیا لره د یو مُلا په طرف
څوک پیروي چې د نبي ﷺ نه کوي
مالدار چې وي او قرباني نه کوي

دغه واجب په هر مالداره سړي
نه پاتې کیږي له هوښیاره سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــادان دے کـــار چـــې دَ ولـــی نـــه کـوی
مـــالـــدار چـــې وی او قـــربـــانـــی نـــه کـوی
احـــمـــده ! حـــق خبـــره تـــالیـــکـــلـــے
دا ستـــا خبـــره عـــلـــمـــا لیـــکـــلـــے
غـــافـــل نـــادانـــه بـــنـــدګـــی نـــه کـوی
مـــالـــدار چـــې وی او قـــربـــانـــی نـــه کـوی

.....................................

.........................

## بیا رانزدې دَ قربانو ورځې دی

اختـــر دے لـــوئـــې ، دَ خـــوشـــحـــالـــو ورځـــې دی
بیـــا رانـــزدې دَ قـــربـــانـــو ورځـــې دی
دَ ابـــراهیـــم عـــلیـــه الســـلام یـــادونـــه
ورســـره دې پـــه هـــر مـــقـــام یـــادونـــه
دَ یـــادیـــدو دَ پـــخـــوانـــو ورځـــې دی
بیـــا رانـــزدې دَ قـــربـــانـــو ورځـــې دی
قـــربـــانـــی دې کښـــې هـــر مـــالـــداره کـــوی
قـــربـــانـــی دې کښـــې هـــر دیـــنـــداره کـــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خوند نه ډكي دَ مزو ورځي دي
بيا رانزدي دَ قربانو ورځي دي

چا به دَ اوښ وي قرباني نيولې
حكم ئي كلك ښهٔ نوراني نيولې

چيلي ، دَ ګډ حلاليدو ورځي دي
بيا رانزدي دَ قربانو ورځي دي

چا به څنډا ، چابه وي غوا اخستي
له عيب نه پاكه ښه اعلا اخستي

دَ يو بل نه دَ زاريدو ورځي دي
بيا رانزدي دَ قربانو ورځي دي

وارهٔ او لوئي په خوشحالو كښي پټ دي
په دعوتونو په مزه كښي پټ دي

دَ لويو لويو ، دَ وړو ورځي دي
بيا رانزدي دَ قربانو ورځي دي

دوستان به ځي دَ سيل چكر دَ پاره
ليدلو له حسين منظر دَ پاره

دَ يو بل نه دَ خبريدو ورځي دي
بيا رانزدي دَ قربانو ورځي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمونه ختم شول دَ هر بشر
فکرونه ختم شول دَ هر بشر
احمده ! دَ ژوند دا يو څو ورځې دی
يا رانزدې دَ قربانو ورځې دی

........................................

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وعونه
ربّنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك
انت التوّاب الرحيم وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خير خلقه
محمد واٰله واصحابه اجمعين . آمين يارب العٰلمين

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**